۲۰۰۹/۱۰/۲٤

هاری

# زیات عسکر ګټه نلري

د نیویارک ټایمز مشهور او وتلی کالمنسټ، نیکولاس کریستوف، د اکتوبر پر ۲۲ مه یوه مقاله خپره کړې ده چې لوستل یې عبث نه ګڼم. ښاغلی کریستوف د افغانستان سره اوږده سابقه لري، او په پښتني سیمو کې د سفرونو او تجربو جالبې کیسې هم لري. مقاله کټ مټ ترجمه سوې ده، خو صرف یو پراګراف ترې حذف سوی دی.

زموږ په خاوره – متحده ایالاتو- کې د خارجي قواوو شتون، زموږ د پلرونو او نیکه ګانو غوسه راوپاروله، او په نتیجه کې متحده ایالات تشکیل او ازاد سول. په بل عبارت، د امریکا ازادي زموږ د پلرونو او نیکه ګانو د نشنلزم له برکته تر لاسه سوه. هغوی خارجي قواوو ته د اشغالګرانو په سترګه کتل نه د محافظینو په حیث. برتانویان هیڅکله زموږ د پلرونو پدغه غوسې باندې پوه نه سول. برتانویان نه پوهېدل چې دا زموږ ملک دی، نه د هغوی. هر څونه چې برتانویانو قهر او فشار زیاتوی، په هغه اندازه په د امریکایانو ښورښ او مقاومت لا زور اخیستی.

دې تاریخ ته په کتو سره، موږ باید هرومرو په نورو ملکونو کې د نشنلزم حساسیت درک کړی وای، خو د دوهمي نړیوالي جګړې راپدې، په ویتنام او لاتیني امریکا کې، موږ امریکایانو په منظمه توګه پر له پسې اشتباهات کړي دي، او د نشنلزم قوت ته مو په سپکه سترګه کتلي دي.

همدراز، موږ په افغانستان او پاکستان کې هم د نشنلزم دکشش او زور په باره کې سم سوچ ندی کړی، په تېره بیا، د ۴۰ میلونو پښتنو په مینځ کې چې د سرحد پر دواړو غاړو باندې پراته دي. همدا یو دلیل دی چې هغه ۲۱۰۰۰ عسکر چې جمهوررییس اوباما ددې کال په سر کې افغانستان ته واستول، دثبات راوستولو سره یې کومه ښکاره مرسته نده کړې، او ۴۰۰۰۰ نور اضافه عسکر به هم چندان ګټه ونکړي.

موږ په افغانستان کې د دوهمي نړیوالي جګړې په پرتله دوه برابره زیات کلونه جنګ کړی دی، او د لګښت کلنی تخمین یې ۶۰ بیلونه ډالره کېږي. د ښورښ او ګوریلایي جنګونو د اصولو په اساس، د عامه خلکو او عسکرو نسبت امر کوي چې موږ باید په افغانستان کې ۶۵۰۰۰۰ عسکر ولرو څو هغه هېواد ارام او باثباته کړو. ایا د ۴۰۰۰۰ نور عسکرو استول به کوم ښکاره توپیر راولي، او زموږ د ۱۰ بیلونو څخه تر ۴۰ بیلونو ډالرو کلنی مصرف به توجیه کړي؟ په تېره بیا چې ښایي همدا عسکر د اشغالګري امریکا تصور لا غښتلی کړي.

زه د هغه وخت راهیسي د پښتنو په باب مجذوب او لېوال سوی یم چې د محصلی په دوره کې مې په قبایلي سیمو کې د بسونو په جنګلو کې د مسافرانو د بکسونو او بسترو په مینځ کې سفرونه کړي دي. پدې وروستیو کلونو، په افغانستان او پاکستان کې د زیاتو پښتنو سره د مرکو په جریان کې ماته دا سوچ راپیدا سوی دی چې موږ ددغه روان ښورښ د فطرت او ماهیت په اړه سخت غلط درک ته رسېدلي یو.

ځیني طالبان سرټمبه مذهبي اشرار دي چې تر مرګ پوري به زموږ سره جنګېږي، مګر نور پدې خاطر جنګ کوي چې نغدي پیسې ترلاسه کوي، ځیني لدې کبله وسلې اخیستي دي چې قومي مشرانو سپارښت ورته کړی دی، ځینو ته همدا روان بغاوت دعنعنوي غلا او لوټ نوی لاره پرانیستي ده، د ځینو د اکا زوی امریکایي عسکرو وژل دی، او باالاخره ځیني غواړي چې کفار له خپله ملکه وباسي.

کله چې پاکستاني عسکر پښتني سیمو ته ننوځي، نتیجه یې په غیر عمدي توګه وخت نا وخت د افراطیانو سره مرسته ده. که چیري پښتانه د پنجابیانو په مقابل کې داسي عکس العمل ښیي، ولي باید موږ فکر کړو چې د ټکساسایانو په وړاندي بل ډول عکس العمل وکړي؟

حقیقت دا دی چې د پښتنو معاصر تاریخ، البته تر یوحده پوري، د عصریت او مادرنایښن په مقابل کې مقاومت دی، کوم چې دننه په ټولنه کې چندان مشتریان نلري.

پدې تېرو څو کلونو کې، د امریکا پوځ تر ډېره حده پوري د افغانانود حساسیتونو په وړاندي ډېر حساس سوی دی، او هلته داسي اول لمبر افسران سته چې د محلي پښتني مشرانو سره ښه همکاري کوي. همدا رشتین ثبات ایجادوي.


maqalat@afghan-german.de افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ
یادښت: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

مګر ګرده قومندانان دا ډول ندي، او اضافه عسکر به خامخا زياتو تلفاتو ته لاره خلاصه کړي چي په نتيجه کي به تاوتريخوالی زياتېږي او د طالبانو مېله به لا جوړېږي.

د اضافه عسکرو د استولو د پلويانو مهم استدلال د القاعدې د تروريستانو څرګند تهديد دی. مګر د جمهورريس کلنټن د وخت د ملي امنيت د شورا يو غړی، ښاغلي سټېون سيمون، وايي تر افغانستان په پاکستان، يمن، او سوماليا کي د القاعدې زيات جنګيالي سته. هغه وايي، «زه شک لرم چي دافغانستان جنګ به د القاعدې پرابلم حل کاندي.»

ددې خبري مانا دا نده چي موږ بايد خپل عسکر له افغانستان څخه را وباسو، ځکه دا غلطه خبره ده چي يا به موږ افغانستان پرېږدو او يا به خپل عسکر دوه برابره کوو. له افغانستانه را وتل به د امريکا د کمزورتيا په ارتباط يوه خطرناکه نښه او علامه وي، او هم به پاکستان سخت بې ثباته کاندي.

زما سپارښت دا دی چي موږ د افغانستان لپاره خپل مقاصد او اهداف څه اصلاح او را کم کړو، ځکه افغانستان به په لنډو وختونو کي هيڅکله په يوې ځلاندي ډيموکراسی بدل نه سي. موږ مجبوره يوچي خپل اوسني عسکر هلته د ښارونو د ساتلو لپاره وساتو، نه د کليو د حفاظت لپاره. په عين زمان کي موږ بايد دافغان د اردو د لا غښتليتوب کارونه ګړندي کړو، او بايد هڅه وکړو چي په پوځ کي پښتانه شامل کړو، ځو په جنوب کي مشروعيت تر لاسه کړو. موږ هرومرو بايد د طالبانو سره خبرو ته کښېنو، څو ځيني طالبانو د خپلو ليکو څخه را جلا کړو، او د افغانانو د زاړه دود سره سم هغه افغانان «کرايه» کړو چي وفاداري يي په پيسو رانيول کېدای سي. پر هغو محلي پروژو زور واچوو چي قومي مشران يي د ساتلو ضامت کوي. دا به نوي کارونه خلق کړي، او بل بايد هرومرو د افغانستان او پاکستان تر مينځ د ګمرکاتو ماليات راکښته کړو.

دا واقعيت بايد په پام کي ونيسو چي د ۴۰۰۰۰ اضافه عسکرو حد اقل لګښت – ۱۰ بيلونه ډالره- کولای سي چي دوو ميلونوخوارو امريکايي ماشومانو د وړکتون لګښت برابر کړي. ايا په اوږدې مودې کي دا زموږ په ګټه ده چي دغه پيسي دننه په امريکا کي ولګوو، او که خپل ځوانان د افغانستان عبث جنګ ته ور واستو، او بده لا داچي پښتون نشنلزم لا ګرم او غښتلی کړو؟

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ